۲۰۱۲/۱۰/۰۶

وړان افغانستان ګوند
فرهنګي کمېسون

# د محصلینو په ملاتړ د وړان افغانستان ګوند اعلامیه
## حکومت د محصلینو وینې غواړې

نن درېیمه اونۍ شوه، چې د کابل د تعلیم او تربیې پوهنتون محصلین سولییز لاریونو ته دوام ورکوي او خپل پوهنتون د استاد برهان الدین په نامه نه غواړي. دوی څو ځلي د پوهنتون مخته سره راټول شول. چې چا یې ږغ وا نه ورېد.
بیا یې څلور واړي د افغانستان تر ولسي جرګې لاریون وکړ او څلورم وار یې د ولسي جرګې دروازې د وکیلانو پر مخ وتړلې؛ د ځینو وکیلانو له خوا توهین آن تر موټر لاندې کړای شول. چې دې هڅې یې هم نتیجه ور نه کړه.

د پوهنتون اداره او ټولګي یې بند کړل، د پولیسو له خوا ووهل شول، لاس او پښې او سرونه یې مات کړل شول او ډزې پر وشوې.

**بالاخره د ملي امنیت ریاست له خوا یې استازي ولسمشر حامد کرزي ته ور وستل شول، ولسمشر ورته وویل : د استاد رباني په نامه یې د دوی پوهنتون د نومولو له امله ګناه کړې ده، اشتباه یې کړې ده او درې واره یې ورته تکرار کړه، چې ملامت یم، ملامت یم؛ او دایې هم ورته وویل، چې د فرمان ورکولو صلاحیت یې لاره، خو د بېرته اخیستلو توان یې د سولې د عالي شورا رئیس (صلاح الدین رباني) سره دی، وروسته یې هغه ته زنګ وواهه چې د محصلینو نمایندګان خپل حضور ته ومني او پر دې مسئله خبرې ورسره وکړې، هغه محصلین ولیدل خو ورسره ویې نه منله.**

په دې سلسله کې محصلینو تر ډېرو نورو مراجعو او د ولسي جرګې تر وکیلانو پورې وځغستل خو تر اوسه یې مثبته پایله نه ده اخیستې.

محصلینو پر مدني ټولنو او ګوندونو هم ږغ وکړ، چې د دوی د ملاتړ آواز پورته کړي، مګر دا آواز لا نه دی پورته شوی.

**نن محصلینو فیصله کړې ده، چې بیا د پوهنتون دروازه وتړي.**

وړان افغانستان ګوند د محصلینو غوښتنه پر ځای او قانوني بولي او د دوی کلک ملاتړ کوي او پر حکومت ږغ کوي، چې د محصلینو غوښتنې او د ملت ارادې ته په احترام سره دا مسئله په سولییز ډول اواره کړي؛ پر هغوی دې ډزې نه کوي، لاس، پښې او سرونه دې نه ورماتوي، او د دې انتظار دې نه کوي چې محصلین مړه او ژوبل شي، بیا لاس په کار شي.

دا مسئله خدای مه کړه په یوه لویه فاجعه بدلېدونکې ده، لا وخت شته، چې حکومت یې غم وخوری، کنه نو د هر ډول ناورین پړه به د حکومت او پارلمان پر غاړه وي.

واک، هم پر ټولو کورنیو او باندنیو مدني ټولنو، ګوندو او بشري سازمانو د محصلینو د ملاتړ ږغ کوي. په درنښت

کابل افغانستان


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ